چې د هر لمانځه په پاى کې مه پرېږده چې ووايې: اې الله، ستا په يادولو، ستا په شکر ادا کولو او ستا په ښه عبادت کولو کې راسره مرسته وکړې

له معاذ بن جبل رضي الله عنه څخه روايت دى چې: رسول الله صلى الله عليه وسلم هغه له لاس څخه ونيوه او ويې ويل: "اې معاذه، په الله قسم چې زه درسره مينه لرم"، نو ويې فرمايل:«اې معاذه! زه تاته سپارښتنه کوم چې د هر لمانځه په پاى کې مه پرېږده چې ووايې: اې الله، ستا په يادولو، ستا په شکر ادا کولو او ستا په ښه عبادت کولو کې راسره مرسته وکړې».

[صحيح دى] [ابو داود، النسائي او احمد روايت کړى دى]

رسول الله صلى الله عليه وسلم د معاذ بن جبل رضي الله عنه لاس ونيوه او ورته يې وويل: قسم په الله چې زه درسره مينه لرم، او اې معاذه! زه درته سپارښتنه کوم چې د هر لمانځه په پاى کې پرې نه ږدې چې ووايې: (اللهم أَعِنّي على ذكرك) اې الله زما سره ستا په يادولو کې مرسته وکړې، په هرې وينا او عمل کې چې ستا پيرو ته مې نږدې کوي. (وشُكْرِك) او ستا په شکر ادا کولو، چې نعمتونه تر لاسه کړم او له نعمتونو څخه د يې برخې کېدلو پر وړاندې مانع وګرځي. (وحُسْن عبادتك) او ستا په ښايسته عبادت، چې الله تعالى ته پکې اخلاص وي او د رسول الله صلى الله عليه وسلم په طريقه برابر وي.

http://sunnah.global/hadeeth/ps/show/3518